كله چې ستاسو څخه يو څوک لمانځه ته راغی او امام په هر حالت کې و، نو هغه څه دي وکړي چې امام يې کوي.

له علی بن ابو طالب او معاذ بن جبل - رضي الله عنهما - څخه مرفوع روايت دی: «كله چې ستاسو څخه يو څوک لمانځه ته راغی او امام په هر حالت کې و، نو هغه څه دي وکړي چې امام يې کوي».

[صحيح] [ترمذی روايت کړی دی]

كله چې ستاسو څخه يو تن لمانځه ته راغی او امام د قيام، رکوع، سجدې او يا ناستې په حالت کې و نو له امام سره دې په هغه حالت کې يو ځای شي که قيام، رکوع او يا بل حالت وي، او انتظار دې نه باسي تر څو امام ودريږي لکه څرنګه چې ځينې عوام خلک کوي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/11310